# د درويش دراني په شاعرۍ کښې علامت نګاري

# Symbolism in Darwaish Durrani's Poetry

Salahudin Sayalan Afridi*
Dr. Noor Muhammad Danish Betani**

**ABSTRACT:**

The word “Alamat” originated from Arabian language. In English language word "Symbol" is used. The word “Alamat” and “Pelaam” are being used in Pakhtunkhwa. The people use the word “Symbol” in English language in its original condition as it has been used from **19th** Century and finally find it way to Pashto literature and in **20th** century. The symbols have been used by various poets through history. The current research will mainly focus on the use of symbols in Pashto Poetry by the Poet named as Darwaish Durrani.

**Keywords:** Literature, Poetry, Pashto, Symbol, Meaning, Classical

علامت د عربۍ ژبې توری دے،چې په انګرېزۍ کښې ورته سېمبول (symbol) وئيلے شي په کوزه پښتونخوا کښې همدغه د عربۍ ژبې تورے "علامت" همدغه رنګ کارولے شي. په بره پښتونخوا کښې دغه تورے په "پېلام" وئيلے کېږي او دغه خلق ئې د انګرېزۍ ژبې تورے سېمبول هم په خپل اصلي حالت کښې استعمالوي

علامت په لغوي اعتبار سره د نښې يا د نښان په معناؤ کښې راغلے دے ،په اصطلاح کښې علامت يو څيز د حقيقي نوم په ځائے په مجازي نوم سره يادولو يا معرفي کولو ته وائي.

" سېمبول د نښې يا علامت په معنا دے او په ادبي اصطلاح کښې هغه سبک ته وېل کېږي ، چهر څوک په هغه کښې يو څۀ ويني ".[1]

دغه رنګ فضل مير خټک په خپل کتاب فضليات کښې د علامت تعريف څۀ په دا ډول کوي:

* Phd Scholar Pashto Academy University of Peshawar
** Assistant Professor, Pashto Academy University of Peshawar

"د علامت اصطلاحي معنی ده د يو شي کردار، يا د يوې واقعې مجازاً د خپل ځان نه لرې د يو بل شي نمائندګي کول. دې ته علامت وائي. ځکه چې د يو لفظ مجازي مفهوم علامتي مفهوم وي لکه شمع د علم علامت دے. تله د انصاف علامت دے. پروانه د عشق علامت دے، ګندا بوټي د ملک دښمنه او د اسلام د ښمنه کسانو علامت دے." [2]

د علامت يا سېمبول تاريخ ډېر لرغونے دے، د انسان د پېدا کېدو سره علامت سم راغلے دے، ورمبيه کښې به انسانانو په خپل منځ کښې د مخصوصو غږونو يا اوازونو په ذريعه يو بل پوهولو. دا غږونه علامتي وو يوه اشاره به په هغه غږ سره ورکولې کېده، دغه رنګ ورپسې خبره ورو ورو اشکالي يا تصويري علامتونو ته راغله، د يو څيز شکل به ئې ساز کړو د هغې په ذريعه به ئې د هغه څيز يا کار مطلب واضحه کاوۀ. عبدالغفور لېوال د پخوانيو يونانيانو په حقله ليکي:

"پخوانيو يونانيانو به د خټو يا ګچو يوه ليکلې لوحه ټوټې ټوټې کړه او پخپلو منځونو کښې به ئې ووېشله، چې بيا وروستو له يو بل سره د همدغو ټو ټو د بېرته سره يو ځائے کولو له لارې وپېژندلائے شي او يا هم د خپل ګډون د نښې په توګه به ئې له ځانه سره ساتله. يونانيانو همدغې لوحې ته سوم بولون (sumbolon) ويل او د سمبول (symbol) اوسمهالې نوم هم له همدغې يوناني رېښې څخه اخستل شوے دے،،." [3]

دا خبره خو واضحه شوه چې علامت ډېر لرغونے دے، په مختلفو طريقو سره ئې سفر جاري ساتلے دے. همدغه سفر يې تر ادبي مکتبونو رارسي. د نولسمې پېړۍ د فرانسي تحريک سره په ختيځ کښې هم رواج مومي. د دومره اوږد سفر نه پس د شلمې پېړۍ په منځومانه کلونو کښې د اردو ادب له لارې پښتو ادب ته راننوځي.

هسې که مونږ وګورو علامتونه د کلاسيکي دورې په شاعرۍ کښې هم په وافر مقدارپه نظر راځي. د خوشحال بابا علامتونه تر اوسه په شاعرۍ کښې کارول کېږي کومو ته چې په عامه توګه آفاقي علامتونه وئيلي کېږي. لکه (باز)، (شاهين)، (دستار)، (ننګيالے)، (غشي)، (تُوره) وغېره. په غېر شعوري توګه راوړلي شوي دي.

بیا که مونږ ته په شعوري توګه د علامتونو استعمال په نظر راځي ، د شلمې پېړۍ په جدیده شاعرۍ کښې په نظر راځي ـ حمزه بابا ، غني خان، قلندر مومند، اشرف مفتون او داسې نورو جدیدو شاعرانو په شعوري توګه د علامتونو کارونې کړې دي له هم دې سلسلې یوه کړۍ درویش دراني دے چې د حمزه بابا نه پس ئې په علامتي شاعرۍ کښې خپله نامه په خلقو منلې ده ـ اوس ګورو چې دروش دراني چرته او کله پېدا شوے دے ؟ همېش خلیل په دې حقله لیکي:

"خپل نوم ئې عبېدالله او تخلص درویش کوي ـ د پشین ضلعې په " ګلستان،، کښې د کال ۱۹۵۳ء د مئ په څلورمه ورځ د احمد شاه دراني کره پېدا شوے دے ـ په ختِه د درانو د پوپلزے څانګې سره تعلق لري ـ پوپلزو کښې حبیب زے ، سیملزے ،جمال زے دے ـ ابائي ټاټوبې ئې " ارغستان ،، دے خو مشرانو ئې په " ګلستان ،، کښې استوګنه غوره کړې وه ـ چې وروستو بیا زمونږ دغه شاعر عبېدالله درویش هم په دغه سیمه سترګې وغړولې ـ ،، [4]

د درویش دراني شمېر د جدید دور په معتبرو او نمائنده شاعرانو کښې کېږي، په شاعرۍ کښې ئې لکه د حمزه بابا غزل زیات مشهور دے ، قافیې ئې دومره مظبوطې وي چې هر لوستونکے او اورېدونکے ئې د قافیې د فن کمال ته حېرانېږي ـ په کلام کښې دومره نزاکت لري چې هر نازک طبیعته انسان ئې د خپل زړۀ اواز ګڼي ـ دې نه علاوه رنګ په رنګ تشبیهات، استعارې ،کنایې او علامتونه ئې د شاعرۍ زېور دي ـ خو په خاصه توګه علامتونه ئې چې په کومه ښکلې طریقه په شاعرۍ کښې ځائے کړي دي د ستائیلو وړ دي ـ

په عامه توګه علامتونه په دوه قسمه دي ،یو ته قراردادي یا آفاقي او بل قسم ته فردي یا ځانګړي علامتونه وئیلے شي ـ آفاقي هغه علامتونه دي چې پخوا راسې په شاعرۍ کښې رواج لري ـ بل خوا فردي علامتونه د هر شاعر خپل ایجاد کړي شوي وي،چې یواځې د هغه شاعر په ذات یا په شاعرۍ پورې منحصره وي ـ په دې حقله عبدالغفور لېوال لیکي:

”سېمبولونه د نوښت له نظره دوه ډوله دي قراردادي او فردي یا ابتکاري ـ قراردادي سېمبولونه هغه دي چې پخوا کارول شوي دي او اوسني شاعران ئې بیا په نوي شاعرانه موقیعت کښې کاروي ،خو فردي یا ابتکاري سېمبولونه هغه ځانګړي سېمبولونه دي ،چې د یوه شاعر له خوا وړاندېزېږي او د لومړه ځل د پاره د سېمبول په ادبي زیرمي ور اضافه کېږي ـ ،، [5]

اوس ګورو چې درویش دراني په خپله شاعرۍ کښې د آفاقي او فردي علامتونو استعمال څنګه کړے دے؟

آفاقي علامتونه:

د درویش دراني د آفاقي علامتونو غوره نمونې په شعرونو کښې راوړو چې د شعر د ناوې د سنګار سوب ئې معلوم شي ـ

”داسې حـــال غـــواړو چې هر څـــوک کړي سر پورته
مګـــر مـــار تـــه دې نـــــو دا اجـــازه نـۀ وي
،،[6]

په دې شعر کښې شاعر دا خواهش ظاهروي چې هر څوک دې هسکه تنې وګرځي په وچتو سترګو دې ژوند وکړي،خو ”مار“ ته دې دا اجازه نۀ وي ـ (مار) نه مطلب د خپلې خاورې وطن سره غدار انسان دې په وچتو سترګو نۀ ګرځي ـ (مار) د زهریلا انسان د پاره هم د علامت په طور اسعمالېږي ـ د ملک د واکدار یا د بلې کومې ادارې مشر چې د ملک یا ادارې سره مخلص نۀ وي، د پاره هم موزون دے ـ دغه خبره ئې د نظم په یوې کړۍ کښې نوره هم واضحه کړې ده ـ

”بس هـــرې خـــوا تـــه غـــلبـــلې جـــوړې شوې
چـــــې د وطـــن دا لـــــرې غـــــدار ونیسئ

د خپـــــــلو اکــــــې درمنـــــد ته اور اچـــــوي
ونــــيسئ زر د غـــــــه مـــکـــــار ونــــــيسئ
غــــابن د وطن پـــــه سپین مـــړوند نـــئ کړي ښخ
دا د لستــــــوڼـــــي تــــــور ښامـــــار ونیســــئ
د خپـــــلي خـــــاورې دا دښمـــــن ونیســــئ
د خپـــــل دښمـــــن دا مـــــد دګـــــار ونیســــئ"[7]

څومره چې د درویش دراني د شاعرۍ خواږهٔ ډېر دي هومره ئې په شاعرۍ کښې د فن کمال هم ښیئلے دے،د علامت د کارولو فن ئې دومره پوخ دے چې د فني بلوغت نه هم مخکښې تېر دے بلکې دا به ووایو چې بابا شوے دے۔ د قراردادي علامتونو نمونې ئې مخې ته ږدو:

په خــوند خــوند شوه لـــه غـــزلو سره تېـــــره
زندګـي مې کـــړه لــــه ګلـــو ســـره تېـــــره[8]
جـــګ د زړهٔ پـــه ســـر کـــه مې ازغـــے نـــهٔ دے
هـــر څـــو کـــه سړے ښکـــاري سړے نهٔ دے
یـــار مې دے څـــراغ رقیـب لــوګے مګـــــر
دا لـــوګـــے د دا څــــراغ لــوګـــے نـــهٔ دے[9]

وړمبي شعر کښې (غزلو) او (ګلو) قراردادي علامتونه دي۔ غزلودګیلومانو،فریادونو او ګلو د ګل جمع استعمالېږي،د ښکلیو خلقو د پاره د علامت کارولے شوے دے۔ دویم او دریم شعر کښې (ازغے) ،(څراغ) ،(لوګے) قراردادي علامتونه دي۔ چې نورو شاعرانو هم پخپلو شعرونو کښې برملا استعمال کړي دي۔

"په بل پسې کېدل مې عـــادت شوے
چې روانه وه بلا پسې روان شوم[10]

دې شعر کښې (بلا) د قراردادي علامت په توګه راوړلے شوے دے. دا تورے د هغه انسان د پاره د علامت استعمالېږي چې په ظاهره ځان فرښته ظاهروي، خو په باطن کښې د انسان د وينې تږے وي، يعني د توقع په خلاف کار چې کوي، دا تورے ورته منسوبېږي.

په يو بل شعر کښې څۀ په دا ډول علامتونه راوړي:

"خبر نۀ يم دا دعا ده که ښېرا ده
چې شاهين ته وائي خدائے دې کړه کوتره[11]

په دې شعر کښې (شاهين) د يو جنګجو، زړور، ننګيالي، توريالي او تکړه بنده د پاره د علامت کارولے کېږي، او (کوتره) په عامه توګه د امن پسند انسان او يا د امن د پاره د علامت مختص دے. ځکه خو شاعر په دې شعر کښې په همدغه معنو دا دواړه توري کارولي دي.

د غزل څو شعرونه يې مخې ته ږدو:

"چې ګزران يې په خراج او په قلنګ دے
کچکول نۀ لري باچا مګر ملنګ دے
نن په هغه تُوره باندې وژل کېږم
په خپل لاس چې لرې کړے ما ترې زنګ دے

دا جهان چې خدائے تنګ نۀ دے پېدا کړے
ستا له لاسه پر مونږ باندې څومره تنګ دے"[12]

خراج)، (قلنګ)، (ملنګ)، (تُوره)، (زنګ)، (تنګ) قراردادي علامتونه دي ـ دوي نه مخکښې نورو شاعرانو هم کارولي دي ـ خو درویش دراني (خراج) ،(قلنګ) او(ملنګ) د ملک د واکدار د عوامو نه د ټېکس په نامه وصولي کولو د پاره کارولي دي ـ (تُوره)او (زنګ) توره د پښتنو بچیانو د پاره په دې شعر کښې علامت دے (زنګ) صفا کول دتربیت د پاره علامت دے مطلب دا چې دغه پښتانهٔ بچي بیا راپاسي خپل پښتانهٔ قتل کوي ـ (تنګ) جهان نه مطلب چې د سړي پکښې ژوند ګران شي ـ دسخت ژوند د پاره د علامت راوړلے شوے دے ـ

"د ویر او وېرې زمانه څومره اوږده شوه دلـــته
ځــوانه راغــلې وه بـــلا ، دا ده زړه شوه دلـــته
هسې خـــو تُـــوره کـــله وربې پـاتې شوې نهٔ ده
خودا اول ځـل دے چې دومره ښه مړه شوه دلته
هغه وخت لاړ چــې کـه به چغه هم راپورته شوله
نو پـــه فضـا کښې به بدلـــه په نغمـــه شوه دلته
ستـــا د راتګ اندازه مونږ ته داسې ولـــګېده
چې لـــه ګـــرځـونو پاکه هره آئینه شوه دلته"[13]

(ویر)، (بلا)، (توره)، (نغمه) او(آئینه) قراردادي علامتونه دي بیا بیا په شعرونو کښې اوړي را اوړي ـ "ویر" د سخت ژوند ،پرېشانیو "بلا" د مصیبتونو "تُوره"، د وینې تویولو "نغمه"، د خوشحال ژوند ،امن پسنده ژوند "آئینه"، د خودبینۍ، خپل زړهٔ د پاره د علامتونو کارولے کېږي ـ

فردي علامتونه:

د درویش دراني په شاعرۍ کښې دا نۀ چې آفاقي علامتونه په ګڼ تعداد موجود دي بلکې که مونږ د هغۀ په شاعرۍ کښې فردي یعني خپل متعارف کړي علامتونه ئې وځیرو په یوه وړه مقاله کښې د هغې ځایول یا د ټولو ذکر کول ګران نۀ بلکې ناممکن دي۔ مونږ ترې د نمونې په توګه یو څو فردي علامتونه مخې ته ږدو ،ګورو چې فردي علامتونه ئې په کومو نویو طریقو د خپلې شاعرۍ رخت زېور ګرځولي دي۔

عبدالغفور لېوال د درویش دراني شعر کښې د فردي علامت څۀ داسې تشریح کوي:

"لـــکه مرهم چې ځنګه ځړیکې له پرهاره باسي

داسې بــه دوي هم ظالمان لــه خپله ښاره باسي

دا بېت ټول تشبیهي بېت دے او لومړے مصرعه له دوهمې سره د مشبه او مشبه به اړیکه لري خو (دوي) داسې یو سېمبول دے چې مونږ یې د سترګو په رپ کښې تداعي لټه پېل کوو۔ (دوي) یواځې د یو شمېر خلکو لپاره اشاره ضمیر نۀ دے ، بلکې یو تینګاري ٠تاکیدي) مفهوم لري چې ټول بېت ته ئې ځانګړے کېفیت وربخښلے دے" ۔[14]

مخکښې لیکي چې:

"د شاعر (دوي) د یوه عادي متکلم (دوي) نۀ دے ، شاعر غواړي د (دوي) د کلیمې تر شا ټول هغه څۀ رابرسېره کړي چې د دۀ هدف دے او مونږ ورپسې ګرځو" ۔[15]

فردي یا ځانګړي علامتونه چې کله یو شاعر په شعر کښې بیا بیا وکاروي ، د نورو شاعرانو توجو هم ورته راواړوي په هم دغه طریقه فردي علامتونه د وخت تېرېدو سره آفاقي حېثیت ومومي۔ خو کله داسې هم وشي چې شاعر یو نیم داسې علامت راوړي چې هغه یې په خپله هم په نورو شعرونو کښې ډېر را نۀ وړي،په دغه وجه هغه علامت د هغه شاعر ځانګړتیا وګرځي۔لکه درویش دراني چې په یو شعر کښې وائي:

"دا يــو خــوئي د ے سره ګـــــــړ د ښائستؤو

چې وخت راشي ستړې پټې په خپل بول کړي[16]

په دې شعر کښې "بول" د فردي علامت په توګه کارولے شوے دے۔ بول په ساده ژبه کښې خبرې يا خبرو ته وئيلے شي۔ خو دلته کښې ترې د شاعر وعدې ته اشاره ده۔ اکثر ښکلي دا مشهوره ده چې د وعدې نه ډېر زر اوړي، خبرو نه اوړېدل د وعدې نه اوړېدل په معني راځي۔ "بول" تورے په دغه معنو کښې د دې نه مخکښې بل کوم شاعر په علامتي توګه نۀ دے راوړے۔ دغه سوب دے چې د فردي علامت په نوم يې بلو۔

وړاندې شعرونو کښې ئې د فردي علامتونو نمونې ځيرو:

"وګـوره دې طـــــرف هـم لـږ مسيحــــا وګـــــوره

زمـا د شونـډو پر تخـــته لاش د خنـــــدا وګـــــوره

ستا په ياری کښې سر داغداره د سپوږمۍ په شانې

زمــــا د ژوند روښـانه لمـر ته خو اشنا وګـــوره"[17]

په دې شعرونو کښې د (شونډو پر تخته)، (لاش د خندا)، (سر داغداره)، (روښانه لمر) د فردي علامتونو غوره نمونې دي۔ وړمبي شعر کښې شاعر خپل محبوب ته د قراردادي علامت مسيحا تورے کاروي او خواست ورته کوي چې ماته يو نظر وګوره چې افسردګي مې ختمه شي، يوه خوشحالي محسوس کړم (زما د شوندو پر تخته )د ذات د ننه (د خندا لاش) نا امېدي، افسُردګۍ د پاره د علامتونو کارولي شوي دي۔

"ستـــا د يـــادونو پــــه خيرن تلـــتک کښې

درويش نغښــتے دے خپل ســــر اوده دے [18]

د هغـــو د کـــــور اسباب به لوټې ځنګه

چې اسمـــان يې د ے تلتک،زمکه نيالي ده[19]

وړمبي شعر کښې (خيرن تلتک) د بې غمه،د هر څيز نه لا پروا ، علامتي معنى ورکوي. دويم شعر کښې ( اسمان ئې د ے تلتک) او( زمکه نيالي) د بې دره بې ګودره او د الله د اسرې نه بغېر د بلې اسرې د نۀ شتون علامتي معنى ورکوي.

درويش دراني په خپل د شاعرۍ کتاب دا "بوټي به لونګ شي "کښې په يو شعر کښې د فردي علامت غوره نمونه پېش کوي:

" يـــــو کاڼے مې راپرېوت پر سر باندې نابېره

خبر نۀ يم چې لاس د کوم ړاندۀ به ئې وي شاته[20]

په دې شعر کښې شاعر په ښکلي انداز طنز کوي چې زما په سر چې کوم کاڼے ولګېدۀ دا به چا ړاندۀ را ګزار کړے وي ، خو مطلب يې هر ګز دا نۀ دے بلکې د (ړاندۀ) نه مراد يې په علامتي معنو کښې بې ضميره،بې احساسه انسان دے ،چې دا يو فردي علامت د ے ځانګړے حېثيت لري.

درويش دراني په يو نظم کښې څۀ داسې فردي علامتونه راوړي:

"ستا د مينې سمندر د ے د هجران سيلۍ خوره ده

خوږه يـــاره! کـــوم طرف ته ستا د وصل جزيره ده

تۀ زمـــا پر تندي بـــاندې کړو کرښو ته حېران ئې؟

د وجـــود پر تـــور لـــحد مې درولې غم کتبه ده

تۀ زمـــا د وجـود کـــــرښې ورانول ګڼې اسانه

خـــو د دې بې ډولـــه تورو سياهي ډېره پخه ده"[21]

(د هجران سیلۍ)، (د وصل جزیره)، (د وجود پر تور لحد)، (د وجود کربښې) او (سیاهي) فردي یعني د شاعر ځانګړي علامتونه دي چې کله نا کله ئې سړے په سنجولو کښې د تشویش ښکار شي. خو د شاعر د شعر د پوښتګۍ او د ذهني اپروچ پته ترې په اسانه لګي.

د کوچۍ نومې نظم یوې کړۍ کښې فردي علامتونه ګورو:

"چې زمــا د تـــازګۍ تـــر څـــو موسم وي
ستـــا د خیـــال فضـــا په ما باندې تازه وي
پـــه مېوه بـــاندې مې ډک وي تـــول ښاخونه
ستا خـــولۀ ښه په دې مېوه باندې خوږه وي
ستـا بچي پکښې له لمره خوندي ناست وي
پـــر ســـر باندې ئې زمـــا سړه سایـــــه وي"[22]

د نظم په دې کړۍ کښې " تازګي" "موسم" "د خیال فضا " "مېوه" "ښاخونه" او "سړه سایه" د فردي علامتونو په توګه په پښتو ادب کښې نوې اضافې دي. چې خپلې ژبې ادب او شاعرۍ ته ئې پرې ښکلا بخښلې ده. همدا وجه ده چې درویش دراني د عصر حاضر د اوچتې پائې په شاعرانو کښې شمېرلے کېږي. بلکې دا به غلطه نۀ وي چې شاعري ئې د یو ځانګړي مکتب حېثیت لري. دغه سوب دے چې ډېرو زلمو شاعرانو ئې په پل قدم ایښے دے. دغه رنګ خپل ادبي سفرونه دوامداره ساتي. دا مقام د ډېرو کمو شاعرانو په برخه شوے دے، کوم چې د درویش دراني نصیب شوے دے. د دۀ په شاعرۍ کښې که په فردي علامتونو نور بحث اوږدؤو نو د مقالې جولۍ به پرې تنګه شي ، خو بحث به پوره نۀ شي. لهزا خبره ئې د نظم په دې شعرونو رالنډوو:

"د نصیب بـــاد ئـــې وړي داسې لکـــه وي چـــې

يــوه پـــانه لـــــه خـــــــزان لـــه زيړو پاڼو
چــې پـــرې دلـــــته هلــــته دهٔ وي نوک وهلے
هېڅــوک نــهٔ ســاتي حساب د هــغو پـــاڼو
هـــــغه زاڼـــې بـــه د دهٔ پـــه حـــال پو هېږي
چـــې ئـــې ببلـــه کـــړي تقدير له نورو زاڼو[23]

لنډه دا ده چې درويش دراني د پښتو ادب د جديد دور يو موميالے او مشهور شاعر دے. ده په خپله شاعري کښې د نورو ادبي اصلاحاتو په شان د علامت نګارئ هم ښه استعمال کړے دے. ده په خپلو ډېرو شعرونو کښې علامتونه راوړي دي. درويش دراني په خپله شاعرئ کښې آفاقي علامتونه سره سره فردي يعني خپل متعارف کړي علامتونه هم ځاے کړي دي. او د خپلې شاعرئ زينت ئې ګرځولے دے.

# حوالي

1. لېوال، عبدالغفور،شعري سېمبولونه، خپرونکې د اطلاعاتو او اړیکو ریاست،د چاپ کال،لمریز ۱۳۹۵ ، ۳۱مخ.
2. خټک، فضل میر،فضلیات ، د چاپ کال ، ۱۹۹۹ء ، ۲۹۱، ۲۹۰مخونه.
3. لېوال، عبدالغفور،شعري سېمبولونه، خپرونکې د اطلاعاتو او اړیکو ریاست،د چاپ کال،لمریز ۱۳۹۵ ، مخ۹.
4. همېش خلیل، پښتانهٔ لیکوال دویم ټوک ، خپرونکې یونیورسټي پبلشرز افغان مارکیټ پېښور ،د چاپ کال، ۲۰۱۱ ء ،۲۸۱ مخ.
5. لېوال، عبدالغفور،شعري سېمبولونه، خپرونکې د اطلاعاتو او اړیکو ریاست،د چاپ کال،لمریز ۱۳۹۵ ،۱۵۱ مخ.
6. درویش،عبېدالله،کر د ګلو،خپرونکې،صحافت نشراتي مؤسسه کاسي روډ الامان اڅکزي پلازه کوټه،د چاپ کال،۲۰۱۲ء،۱۳مخ.
7. درویش،عبېدالله،اغزنه لار،د چاپ کال،۱۹۷۸ء،چاپ ځائے،عباسي پرېس کراچي، ۱۳۲مخ.
8. درویش،عبېدالله،کر د ګلو،خپرونکې،صحافت نشراتي مؤسسه کاسي روډ الامان اڅکزي پلازه کوټه،د چاپ کال،۲۰۱۲ء،۱۵مخ.
9. درویش،عبېدالله،دا بوټي به لونګ شي،چاپ ځا ے،یونائټډ پرېس. کوټه،چاپ کال،۲۰۰۹ء ،۱۵ مخ.
10. درویش،عبېدالله،کر د ګلو،خپرونکې،صحافت نشراتي مؤسسه کاسي روډ الامان اڅکزي پلازه کوټه،د چاپ کال،۲۰۱۲ء،۲۷مخ.
11. همدغه،کتاب، ۵۲ مخ.
12. همدغه،کتاب، ۷۱ مخ.
13. همدغه،کتاب،۷۵ مخ.

14۔لېوال، عبدالغفور،شعري سېمبولونه، خپرونکې د اطلاعاتو او اړيکو رياست،د چاپ کال،لمريز ۱۳۹۵ ،۱۲۹ مخ ۔
15۔همدغه، کتاب،۱۲۹ مخ۔
16۔درويش،عبېدالله،کر د ګلو،خپرونکې،صحافت نشراتي مؤسسه کاسي روډالامان اڅکزي پلازه کوټه،د چاپ کال،۲۰۱۲ء، ۸۱ مخ۔
17۔درويش،عبېدالله،اغزنه لار،د چاپ کال،۱۹۷۸ء،چاپ ځائے،عباسي پرېس کراچي،۱۱۳ مخ۔
18۔همدغه،کتاب، ۱۰۰ مخ۔
19۔درويش،عبېدالله،کر د ګلو،خپرونکې،صحافت نشراتي مؤسسه کاسي روډالامان اڅکزي پلازه کوټه،د چاپ کال،۲۰۱۲ء، ۸۲ مخ۔
20۔درويش،عبېدالله،دا بوټي به لونګ شي،چاپ ځاے،يونائټډ پرېس۔کوټه،چاپ کال،۲۰۰۹ء،۴۹ مخ۔
21۔درويش،عبېدالله،اغزنه لار،د چاپ کال،۱۹۷۸ء،چاپ ځائے،عباسي پرېس کراچي،۱۵ مخ۔
22۔درويش،عبېدالله،کر د ګلو،خپرونکې،صحافت نشراتي مؤسسه کاسي روډالامان اڅکزي پلازه کوټه،د چاپ کال،۲۰۱۲ء،۱۲۹ مخ۔
23۔هدغه،کتاب، ۱۳۱ مخ۔

**References**

1.Lewal,Abdul Ghafoor,sheri symbolona,khaparawonky da etilaato ao areko riyasat,chap kal lamrez 1395,makh 31-

2.Khattak, Fazal Meer,Fazliyat,da chap kal 1999,makhona 290,291-

3. Lewal,Abdul Ghafoor,sheri symbolona,khaparawonky da etilaato ao areko riyasat,chap kal lamrez 1395,makh 9-

4.Hamesh Khalil.pukhtana likwal doyam took,khaprawonky university publishers afghan market pekhawar,da chap kal 2011,makh 281-

5. Lewal,Abdul Ghafoor,sheri symbolona,khaparawonky da etilaato ao areko riyasat,chap kal lamrez 1395,makh 151-

6.Darvesh ,Abdullah,kar da gulo,khaparawonky ,sahafat nashrati mosisa kasi road alamam achakazai plaza Quetta da chap ksal 2012,makh 13-

7.Darvesh , Abdullah ,Aghzana Laar,da chap kal 1978,Abasi Press Karachi,makh 136 –

8. Darvesh ,Abdullah,kar da gulo,khaparawonky ,sahafat nashrati mosisa kasi road alamam achakazai plaza Quetta da chap ksal 2012,makh 15.

9.Darvesh,Abdullah,da boti ba lawing shi,chap zai united press ,Quetta 2009,makh 15.

10. Darvesh ,Abdullah,kar da gulo,khaparawonky ,sahafat nashrati mosisa kasi road alamam achakazai plaza Quetta da chap kal 2012,makh 27.

11.Ham dagha kitab makh 56.

12. Ham dagha kitab makh 71.

13. Ham dagha kitab makh 75.

14. Lewal,Abdul Ghafoor,sheri symbolona,khaparawonky da etilaato ao areko riyasat,chap kal lamrez 1395,makh 169.

15.Ham dagha kitab makh 169.

16.Darvesh ,Abdullah,kar da gulo,khaparawonky ,sahafat nashrati mosisa kasi road alamam achakazai plaza Quetta da chap kal 2012,makh 81.

17. Darvesh , Abdullah ,Aghzana Laar,da chap kal 1978,Abasi Press Karachi,makh 113.

18.Ham dagha kitab makh 100.

19. Darvesh ,Abdullah,kar da gulo,khaparawonky ,sahafat nashrati mosisa kasi road alamam achakazai plaza Quetta da chap kal 2012,makh 82.

20. Darvesh,Abdullah,da boti ba lawing shi,chap zai united press ,Quetta 2009,makh 29.

21. Darvesh , Abdullah ,Aghzana Laar,da chap kal 1978,Abasi Press Karachi,makh 15.

22. Darvesh ,Abdullah,kar da gulo,khaparawonky ,sahafat nashrati mosisa kasi road alamam achakazai plaza Quetta da chap kal 2012,makh 129.

23.Ham dagha kitab makh 31.